AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۱/۱۱/۰۷

# د یووالي جنډه

راسه لاس په لاس کې ورکړو وطن جوړ کړو
د دې خاورې څه د مځکې عدن جوړ کړو

چې ازاد سو د پردیو داحتیاجه
خپل هیواد څخه پاریس د ګفتن جوړ کړو

نه به فقر مسکیني او ګدایي وي
یو د امن ، سوکالۍ خپل مسکن جوړ کړو

د یووالي تر جنډې راسه را غونډ سو
ددې تیت پرک قومو یو بدن جوړ کړو

خوله ور ماته د دښمن راځه په سوک کړو
د وطن سو ساتندویه کفن جوړ کړو

د نومیر به خوشحالي په هغه ورځ وي
چې په لور د ترقي مو رفتن جوړ کړو

اکتوبر -۱۱ - ۲۰۲۱
متحده ایالات ، کلفورنیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ